PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونيزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

الهی فرمان

او بې له شکه چې په څارویو کې هم تاسې ته یو لوی درس دی. مونږ تاسې ته دهغوی له ګیډونه د خوشایو او وینې ترمینځه خالصې شیدې درڅښو چې د څښونکو لپاره ډیرې خوندورې او آسانې تیریږي. او په همدې توګه د خرما او انګورو له ونو نه هم تاسې نشه لرونکې او نور ښه خوراکونه جوړوئ، بې له شکه چې د عقل لرونکي قوم لپاره په دې کې لویه نښه او دلیل دی. او ستا رب د شاتو د مچی په زړه کې ورواچوله چې په غرونو، ونو او هغو لوړو او دنګو ځایونو کې چې خنک یې جوړوي خانو ته جالي جوړې کړئ. (سورة النحل، آیت ٦٥ - ٦٨)

نبوي ارشاد

محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
تاسې رښتیا ویل پر ځان لازم وګرځوئ، ځکه رښتیا وینا انسان د نیکي په طرف بیایی او نیکي انسان جنت ته رسوي. کوم سړی چې هر وخت رښتیا وایي او د رښتیا ویلو عزم کوي، هغه د الله په نزد رښتونی لیکل کیږي، تاسې همیشه له دروغ ویلو نه ډډه کوئ ځکه چې درواغ انسان دګناه په لور بیایی یعنی دوزخ ته رسوي، کوم سړی چې همیشه دروغ وایي او دروغ ویل دهغه کسب ګرځیدلي وي هغه د الله په نزد لوی درواغجن لیکل کیږي. (بخاري، مسلم، ابو داود، ترمذي)

شهادت دویم کال، ۲۱ مه ګڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د غبرګولی ۱۹ مه د۱۴۳۱ هـ ق د جمادی الاخر ۲۶ مه د ۲۰۱۰ م د جون ۹ مه

چه باعث شد که دو مقام ارشد امنیتی افغانستان استعفا دهند؟

چه باعث شد که دو مقام ارشد امنیتی افغانستان استعفا دهند یا به استعفا مجبور شوند؟ سوالی است که دیدگاه های متفاوت کارشناسان را در ارتباط به استعفای محمد حنیف اتمر وزیر داخله و امر الله صالح رییس امنیت ملی به همراه دارد.

برخی از کارشناسان به این باور اند که کنار روی این دو مقام از پست های شان فرهنگ مسوولیت پذیری را در افغانستان مروج خواهد ساخت، در حالی که تعدادی دیگر فکر می کنند که اتمر و صالح دو تن از چند چهره بسیار فعال در حکومت افغانستان بودند که از امکانات لازم برای مهار کردن تهدید های موجود امنیتی برخوردار نبودند.

امر الله امان یکی از این کارشناس مسایل امنیتی است می گوید، پیش از جرگه مشورتی صلح حوادث بزرگتری در افغانستان رخ داده بود و برکناری این دو مقام را در شرایط کنونی مورد سوال قرار می دهد.

اما محمد حنیف اتمر و امر الله صالح هر دو پذیرفته اند که پوشش امنیتی دقیق در روز نخست برگزاری جرگهء ملی مشورتی صلح صورت نگرفت و به همین علت از وظایف شان کنار رفته اند.

وزیر داخله افغانستان به دنبال استعفایش در یک کنفرانس خبری در کابل گفت: «جای نهایت تاسف است که با تمام تدابیر ما، مردم ما و مخصوصاً نماینده های مردم ما که به این جرگه تشریف آورده بودند در این روز از امنیت صد درصد برخوردار نشدند. یگانه راه را که بر هر مامور دولت افغانستان منجمله وزیر داخله باقی می ماند، این است که از وظیفهء خود استعفا دهد.»

امر الله صالح نیز در کنفرانس خبری جداگانهء اظهارات مشابهء به محمد حنیف اتمر داشت، اما گفت که ده ها دلیل و نزاکت های داخلی و خارجی دیگر نیز در ارتباط به استعفایش وجود دارد که او در مورد آن توضیح نداد.

بقیه در صفحه ۴

رئیس جمهور حامد کرزی:

تمام قضیه های شورشیان مظنون در زندان های داخلی بررسی شود

رییس جمهور افغانستان، دستور داده تا تمامی قضیه های شورشیان مظنون که در زندان های داخل این کشور زندانی اند، بررسی شود.

حامد کرزی هم چنان خواهان رهایی افراد شده که براساس گزارش های نادرست و اتهامات ثابت ناشده، زندانی شده اند.

وحید عمر سخنگوی رییس جمهور کرزی در کانفرانس خبری در کابل گفت، هیات از ارگان های عدلی و قضایی افغانستان به منظور بررسی این قضیه ها موظف شده است.

این فرمان رییس جمهور کرزی اولین گام او به خاطر تطبیق پیشنهادهای جرگهء مشورتی صلح در کابل است.

در قطعنامهء شانزده ماده یی این جرگه برجسته ترین پیشنهاد ها این بود که نام مخالفان مسلح

بقیه در صفحه ۴

هولبروک: امریکا په افغان حکومت کې د یو شمیر طالبانو د ګډون خبره منلي

د افغانستان او پاکستان لپاره د سپینې ماڼۍ ځانګړی استازي ریچارډ هولبروک وایي، امریکا په افغان حکومت کې د اصلاح شوېو طالبانو د ګډون خبره منلې ده. هولبروک په خپله یوه وروستۍ مرکه کې وویل، چې په افغانستان کې سولې او بریالیتوب ته د رسېدو لپاره یو قاطع برید نه شي تاکل کېدای، خو ده زیاته کړه چې په ملکي برخه کې په افغانستان کې د نړېوالې ټولنې همکاري په زیاتېدو ده.

د افغانستان او پاکستان لپاره د متحدوایالاتو جګک پوړی ډیپلومات وایي، واشنګټن اوس منلې چې په افغانستان کې د سیاسي حل په وروستي پړاو کې اصلاح شوي طالبان په هغه صورت کې چې له ځانګړو حدودو عدول ونه کړي کولای شي په حکومت کې ګډون ولري.

هولبروک له رویترز خبري اژانس سره په مرکه کې وویل، د سولې ملي مشورتي جرګه له وسله والو طالبانو سره د تماس لپاره یو مهم

پاتې ٤ مخ

په افغانستان کې د عیسویت د خپراوي مخه څنګه نیول کیدی شي؟

دریيمه مخ

زمزمهٔ بر قیام خونین هشتم و چهاردهم جوزا سال ۱۳۵۸ پیشتازان نهضت اسلامی در محبس پلچرخی کابل

شب تاریک و ساحل دهم ما ناکام برگشتیم
دریغا دوستان رفتند و ما بدنام برگشتیم

شبی که ستاره ها در آسمان نیلگون و لاجوردین چشمک میزدند. طنین غرش لشکریان فضا دور عالم را پیچیده بود. فرشتگان به پیشگاه ابدیت خمیده بودند. آفتاب از سرزمین عشق رخت سفر بسته و به وادی خیال رحل اقامت گزیده بود. حوریان وارسته با خلعت های نازتن آراسته و با شوق انتظار محبوب را در کاخهای طلایی و در زیر قنادیل لاجوردین بر ارائیک خیال تکیه زده می کشیدند. لحظه به لحظه طوفان عشق بر امواج سرکش دل فرمان میداد و لشکریان نور با دیدن سپاهیان شب در اندیشه بودند. زمان بدین منوال میگذشت. فرماندهان و فرمان بران اهریمن در کمین گاه نشسته بودند. هر لمحه که میگذشت، عربده طاغوت از فراز قفسه های آهنین به فضا زبانه میکشید. نعره های کوبنده تکبیر لشکریان نور هر چه قویتر قلب های بیرحم سربازان سیاه را میشگافت صف های نوریان بیدفاع و طاغوتیان سیاه دهری و اجیران بیگانه لحظه به لحظه قریب تر میشد. جهنمیان تاریخ با حیله های، ساحرانه حول و حوش جهنم را دور میزدند. مسلسل بدوشان و خمپاره افگنان با سازو برگ سپاهیان و سیل از سیلاب غول پیکران در گوشه ها به کمین گاه نشسته و منتظر آخرین فرمان از دژ متزلزل فرمانروایان اجیر مارکس تبار بودند.

لشکریان توحید و سپاهیان نور با دستان پرتلائو، با رخسار نقره گون قامت استوار و قلب سرشار از نور ایمان و اعتقاد راسخ به خدا و عزم آهنین در راه هدف تحت فرمان قوماندان آهنین پنجه تورن عبدالهادی مشهور به (پدر) و قهرمان معرکه و جهاد شاه ابدال بزرگ با ترتیب دسته جات منظم

بقیه در صفحه ۴

تجویز شرعی برای حل منازعات

صفحه دوم

تجارت مواد مخدر افغانستان تهدید به صلح و امنیت جهانی است

روسیه به نیروهای ناتو در افغانستان در رابطه با از بین بردن تولید و قاچاق مواد مخدر تاکید کرد و همچنان در ایجاد کمربند امنیتی در اطراف افغانستان کمک های آن کشور را پیشنهاد نمود. سیرگی ایوانوف معاون صدراعظم روسیه این مطلب را در اجلاس امنیتی آسیا پاسفیک که از سوی مقامات اداره بین المللی مطالعات استراتژیک در سنگاپور برگزار شده بود، بیان کرد.

سیرگی ایوانوف معاون صدراعظم روسیه گفت، جامعه بین المللی تولید و قاچاق مواد مخدر را در افغانستان باید منحیث تهدیدی به صلح و امنیت تلقی نماید. زیرا عاید ناشی از فروش و قاچاق مواد مخدر مهم ترین منبع عایداتی برای طالبان و دیگر گروه های تندرو می باشد.

افغانستان ۹۰ درصد تولید کننده تریاک جهان و منبع اساسی تولید هیروهین بوده و یکی از کشور های بزرگ ...

بقیه در صفحه ۴

په پاکستان کې د افغانانو د ځورولو نوې لړۍ پیل شوې

په دې ورځو کې د خیبر پښتونخوا پولیسو د افغانانو د تنګولو او شوکولو کار ته په پوره زور او خواک لاس اچولی. هسې خودا لړۍ له پخوا راهیسې روانه ده خو اوس چې دپښتنو په دغې خاوره د پښتنو خپل واک چلېږي ــــ له نورو پښتنوسره داسې چلندخفه کوونکی دی.

ماله څو داسې کسانوسره خبرې وکړې چې په پېښور کې پولیسو ځورولي دي، په دې ډله کې له څلورو درې داسې کسان دي دپېښور په ring road د حیات اباد تانې پولیسو لومړی وهلي او بیایې ترې پیسې اخیستي دي. یو کس چې درې زره روپۍ یې لرلې او دوه زره ترې دخیبر پښتونخوا پولیسو شوکولې دي وویل درې زره روپۍ مې لرلې، ټولې یې رانه واخیستې، چې ماتېنګار وکړ چې نورې پیسې نه لرم نو وه یې وهلم، چې مور مې داحالت ولید راکوزه شوه، او په خیرو یې لاس پورې کړ-نوبیایې زر روپۍ بېرته راکړې او دوه زره یې رانه واخیستې

په تېرو یادو شوو کسانو کې یو چې دوه نیم زره روپۍ ترې په همدغه رینګ روډ باندې پولیسو اخیستې وې وویل چې ددوی په ګاډي کې شپږ نارینه او پاتې یې مېرمنې وې، له یادو شوو شپږ کسو نه دحیات اباد دتانې پولیسو ۱۶۰۰۰شپاړس زره روپۍ اخیستې دي چې په دې کې څلور زره هغه روپۍ هم شاملې دي چې پولیسو له یوه سپین ږیري نه غلا کړې او چې سپین ږیری ګاډي ته وخوت او پوی شو چې پیسې ترې وهل شوي نو بېرته ورکوز شو او هغوی په ډېره بې رحمۍ وواهه چې، ددوی په ملک کې هم اوسېږي او د غلا دعوې هم پرې کوي. دا په داسې حال کې چې ټولو یې دپاکستان د حکومت له خوا ورکړل شوي کارډونه لرل.

یوبل کس ویل چې غوښتل مې د پېښور په صدر بازار کې....

پاتې ٤ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپیڅلي نامه

د ملت د استازو پیغام

د سولې ملي مشورتي جرگې له پریکړو څخه یو څرگند پیغام دا ترلاسه شو چې د افغانستان ولس پخپل هېواد کې سوله او امن غواړي ځکه چې د سولې ملي مشورتي جرگې ۱۶۰۰ استازو د خپل اولس په نمایندگي پخپل اعلامیه کې چې په شپاړلسو مادو مشتمله وه له دولت او د دولت له مخالفینو څخه په صفا ټکو کې غوښتنه وکړه چې د افغانستان جنگ ځپلی او رنځیدلي ولس نور پخپل هیواد کې د جنگ پای او واقعي امن غواړي.
دا یوائې د ۱۶۰۰ افغانانو د زړه آواز نه بلکې د گرد ملت یو څرگند پیغام و چې د خپلو استازو له لاری دولت، ددولت مخالفینو، د امریکا په مشری ناټو ځواکونو او نړیوالی ټولنی ته ورساو، دا په حقیقت کې ددولت له خوا یوه عمومي نظر غوښتنه وه چې د افغانستان ولس د خپلو نماینده گانو په ذریعه د سولې ملي مشورتي په جرگه کې ښکاره کړه.
په دې جرگه کې په یوه خوله او په یو غږ په دې خبره بشپړ تاکید وشو چې په افغانستان کې د سولې او امن د تأمین لپاره ملي پخلاینی ته اشد ضرورت دی، نه ښایئ چې د سولې پروسه له نظره وغورځول شي.
گویا ملت خپل ایماني او افغاني رسالت ترسره کړه او پخپله اعلامیه کې د سولې د ملاتړ په ښکاره کولو سره دا ثبوت او سند ورکړ چې ملت په مطلق ډول سوله او امن غواړي، د ملت دلاسه چې څه پوره وه هغه یې ترسره کړ، اوس د حکومت او دهغوی د مخالفینو کار دی چې هغوی د ولس پیغام او غوښتنو ته څنگه ځواب ور کوي؟ البته د اولس جدي هیله داده چې غوښتنو ته یې مثبت ځواب ور کړي او په هیڅ حالت کې له پامه ونه غورځوي ځکه چې دواړه لوري همدا ادعا کوي چې موږ د خپل ولس، خاورې او عقیدې لپاره کار کوو، مخالفین هم په وار وار همدا خبره تکراروي چې موږ د خپل ولس د ښیگڼې، استقلال او اسلامي نظام د قیام لپاره وسله اوچته کړی ده، دولت هم وایي چې موږ د خپل ملت د پرمختگ، هوسا ژوند، اسلامي نظام او امنیت د قیام لپاره ملا تړلې ده.
که واقعاً دوی پخپلو ادعاگانو کې رښتوني وي بیا په افغانستان کې د سولې په راوستو او ملي پخلاینه کې هیڅ راز خنډ نشته او نه هم ددې جواز شته چې د یو بل په خلاف وسله اوچته کړي، بلکې ددې خبرې ضرورت دی چې دواړه لورې پخپلو کې راجرگه شي او هغه اختلافي ټکي تر غور لاندې ونیسي چې ددوی ترمنځ د اختلافاتو او وسلو اوچتولو باعث گرځیدلي، هغه بنیادي عوامل وڅیړي چې د افغانانو، دین، فرهنگ، عقیده، او خپلواکي تر اغیز لاندې راوستې، پر ټولو مثبتو او منفي اړخونو له مطالعې وروسته دې منفي اړخونه پریږدي او پر مثبتو اړخونو دې توافق وکړي، د افغانستان او افغانانو مجموعي او عمومي مجبوزیتونو، همدغه راز د زمان، مکان او نړیوالو حالاتو په نظر کې نیولو سره پر داسې یوه پریکړه توافق وکړي چې واقعاً افغانان دهغوی له مسؤولیته وتلې او د بریالیتوب پړاوته رسیدلې شي.
په دې کې شک نشته چې افغانستان د خپل تاریخ په نازک پړاو کې قرار لري، افغانان چې په کومو پیچلو او اغزنو لارو کې نن راگیر دی په تیر تاریخ کې نه وو راگیر شوي، دا حالت زیات زیرکتیا، هوش، زغم او زیاتو سلا مشورو ته اړتیا لري، په عجلت او وارخطایي کې هر اوچت شوې گام نه تلافي کیدونکي تاوان لري، زموږ دښمنان انتظار باسي چې زموږ له غلطی او غفلت نه گټه اوچته کړي او داسې حالت ته مو ورسوي چې په آسانی سره زموږ غاړو ته د غلامی زنځیرونه واچوي. په حقیقت کې افغانان د ازموینې یوه سخته پړاو مخې ته لري، دا وخت د افغانانو د پوهې، جرئت، زغم، صحیح پلان، صحیح کړنلارې او روغ دریځ د خپلولو وخت دی. که الله مکړه د افغانانو مشران له عقل، فهم او تدبر نه کار وانخلي او د ملت د مجموعي گټو پر ځای د خپلو ذاتي گټو پاللو ته ترجیح ورکړي نو لېرې نه ده چې د افغانانو پنځه زره کلن قربانی چې تاریخ په بېلا بېلو پړاوونو کې د خپلواکی او د اسلام د سرلوړی له پاره ورکړي دي عبث لاړ شي، بیا به لاسونه مروړي خو له ساړه اسویلو پرته به بل هیڅ څه نشي کولی.
ښه به دا وي چې نور د جوش او غفلت پر ځای د هوش او پر حقیقت ولاړ دریځ خپل کړی شي د ذاتي گټې او ناروا اقتدار لالچ له مغزونه وویستل شي، د افغانستان له میړانه ډک پنځه زره کلن تاریخ تر پښو لاندې نشي، د محمود غزنوي، احمد شاه ابدالي، شیر شاه سوري، میرویس نیکه، نازو انا، ملالی او نورو ملیونو شهیدانو قهرمانی په صفر کې ضرب نشي.
دا واقعیت باید په سر ستر گو ومنو چې د نړی هر قام د خپلی خاوری، تاریخ، فرهنگ، استقلال او نظام ساتنه پخپلو متو کوي، یو بل ته د وروري او مرستی لاسونه ورکوي، د خپل هیواد د پرمختگ لپاره خپلې خولې تویوي. راځئ موږ هم پخپل هېواد کې د سولې د تأمین او حقیقی خپلواکی په خاطر پخپلو کې د وروري او یووالی لاسونه ورکړو او خپل هیواد د امن او مینې په کور بدل کړو.

تجویز شرعی برای حل منازعات

اعزامی

یکی از مصایب و بدبختی های مسلمانان در طول تاریخ، ازین جا نشأت کرده است که ارباب قدرت و ثروت بجای اینکه قواعد و دساتیر صریح قرآنی را، راهبرد و رهگشای دعا وی و منازعات ذات البینی بگردانند، برعکس با سبک انگاشتن فرمایشات قرآنی، اغلباً به هوا و هوس خویش فیصله کرده و سبب خیزش فتنه و فساد در جوامع شده اند. اسلام عزیز راه حل معقول و منطقی نزاع ها و کشمکش ها را تمسک به فرامین الهی و سنت های نبوی دانسته است، چنانچه میفرماید:

ترجمه: ((پس اگر در مسأله ای با همدیگر در نزاع و اختلاف افتادید، پس آن را به خدا و رسولش راجع (حواله) کنید و...)) (سوره النساء آیه ۹۵).

از چند سال به اینسو ما شاهد درگیری و نزاع فیمابین قوم کوچی و قوم دهنشین هزاره در صفحات مرکزی کشور، بالخصوص ولسوالی های بهسود، تیزک و دایمیرداد هستیم، برای حل این نزاع از جانب دولت کمیسیون با صلاحیت تعیین گردید و پس از بحث و مذاکره طولانی قضیه حل شد، ولی هر سالی یکبار در فصل بهار این نزاع از سر گرفته می شود و میان افراد هر دو طرف بر سر مالکیت علفچرها درگیری رخ داده و در نتیجه موجب هلاکت و زخمی شدن چندین نفر می گردد: چند روز قبل مثل سال های دیگر، این معضله بار دیگر میان طرفین قضیه اوج گرفته و بدون اعتنا به قول و قرارهای قبلی هر دو طرف برخواست های خود اصرار دارند. کوچی ها با ارائه اسناد رسمی، علفچرها مورد منازعه را ملک خویش می پندارند و مردم بومی با بی اعتبار خواندن اسناد مذکور علفچرهای متذکره را ملکیت خود می دانند.

آنچه که در گذشته باعث گردیده، این معضله راه حل منطقی نیابد، ازین نکته ناشی میشود که هیأت های اصلاحی غالباً یا بر اساس مصلحت ها عمل کرده اند و یا با توسل به روش های احساساتی و عاطفی، با قضیه برخورد کرده و به یافتن راه حل موقتی و زود گذر اکتفا نموده اند و یا هم از راه تشویق و تطمیع با اطراف درگیر وارد معامله شده و به این ترتیب روی یک راه حل اساسی و دایمی فکر نکرده اند، وقتیکه در ارزش های دینی ما برای حل و فصل تمامی منازعات و دعا وی راه حل منطقی و عادلانه وجود داشته باشد، پس چرا به راه ها و روش های متوسل شویم که بناحق سبب اتلاف حقوق مسلم طرف مستحق گردد؟

قرآن بما حکم می کند که نزاع های تانرا فقط با اعتصام به فرمایشات قرآنی و سنت های نبوی حل و فصل کنید، در صورتیکه شما به خدا و روز آخرت ایمان دارید؛ زیرا این طریقه بهتر و نیکوتر است به اعتبار عاقبت و انجام آن. متأسفانه در کشور ما مود گردیده که هر موضوعی را باید سیاسی بسازند و سیاستمداران با دامن زدن به احساسات قومی و گروهی مردم، به نفع خویش بهره برداری نمایند. چنانچه قضیه کوچی ها برای یکعده به مثابهٔ یک منبع خوب درآمد گردیده و سالانه ازین درک، پول های زیادی را به کیسه می زنند و عدهٔ دیگر با تحریک احساسات مردم با توسل به گرایشات قومی و گروهی، برای خود جاه و اعتبار کمایی می کنند، ولی آنچه که درین میان به هدر می رود و به آن کسی ارزش قایل نیست، خون مردم مظلوم و بی خبری است که به ناحق به زمین می ریزد و از حاصل آن قمیص اربابان قدرت و ثروت گلگون می شود.

آنچه که درین قضایا مایهٔ تاسف است، اینست که بعضی ها خود را مالک الرقاب مردم تراشیده، به جای اینکه در جهت حل مسالمت آمیز قضیه همکاری کنند، سبب اشتعال خشم و احساسات آنها می گردند، این آقایان بجای اینکه طرفین درگیر را به اخوت و مدارا دعوت نمایند تا فرصت حل و فصل شرعي و منطقی قضیه مساعد گردد، برعکس با سردادن شعارهای تحریک آمیز، بر تشنج فیمابین دامن می زنند. بجای آنکه قضیه را به مراجع عدلی و قضایی راجع کنند، به پارلمان کشاندند و به تحصن ها و اعتصابات پرداختند، محافل و میتنگ های خبری درست کردند و کارهای دیگری ازین قبیل که متأسفانه همهٔ این اقدامات بجای رسیدن بیک راه حل، قضیه را بیشتر از پیش پیچیده تر کرده است.

بهترین راه برای حل این معضله، همان طوریکه در فوق بدان اشاره گردید، اینست که هر دو طرف باید این قضیه را حقوقی تلقی نموده و از طریق مراجع عدلی و قضایی و کمیسیون مرکب از علما و دانشمندان هر دو طرف بررسی نمایند و بدون سیاسی سازی مسئله به مراجع مذکور فرصت بدهند تا در روشنایی احکام و روایات اسلامی و قوانین نافذهٔ کشور به حل و فصل آن بپردازند.

بهتر اینست که اولیای امور دولت از دخالت تحریک آمیز در این قضیه اجتناب نمایند، زیرا مرجع حل و فصل دعا وی و نزاع ها، ارگان های عدلی و قضایی کشور است، حکام و قانون سازان بایست مطابق مواد قانون اساسی به وظایف مشخص خود بپردازند و با مداخله و پا در میانی های یک جانبه در پروسه حل و فصل قضیه، تأخیر و سکتگی ایجاد نکنند.

فیصلهٔ که در جلسه نوبتی چندی قبل شورای وزیران صورت گرفت، باید نزد همه کسانیکه به نحوی از انحاء ازین طرف و یا آن طرف حمایت می کنند، قابل احترام باشد و همه در جهت تعمیل آن همکاری کنند.

در مورد حل و فصل نزاع کوچی ها و مردم دهنشین هزاره، چند روز قبل از جانب مقام ریاست جمهوری حکمی صادر گردید که یقیناً با عملی شدن آن تشنج فعلی رفع می گردد و جهت یافتن راه حل دایمی آن، چنین فیصله گردید که موضوع دعوای حقوقی طرفین در مورد زمین های علفچر باید به محاکم راجع گردد. راه های دیگری که در پهلوی فیصله قطعی محاکم به حل دایمی این معضله کمک می کند، اینست که در فیصله شورای وزیران آمده است که برای حل دایمی مشکل کوچی ها و توزیع زمین برای اسکان آنها، کمیته ای موظف گردیده تا با ارائه برنامه ملی رشد مالداری در چوکات طرح طرزالعمل های بنیادی، شامل ایجاد فارم ها و ترویج مالداری در زمینه پیدا کردن راه های حل دایمی پرداخته و گزارش خویش را طی مدت سه ماه به شورای وزیران ارائه نمایند تا منبعد از بروز مشکلات و نزاع بین اقوام با هم برادر کشور جلوگیری به عمل آید.

تعمیل فرمان ریاست جمهوری در مورد معضله کوچی ها و مردم بومی، به اضافه حواله دعوای حقوقی آنها غرض حل و فصل به محاکم و پیدا کردن راه های عملی اسکان کوچی ها از طرق معقول دیگر، چون توزیع زمین و انکشاف برنامه های مالداری وغیره راهکارهای اساسی اند که این معضل واقعاً برای همیشه حل میگردد. امیدواریم که هر دو طرف درگیر و هوا خواهان اطراف قضیه به این فیصله شورای وزیران وقعی نهاده و با سپردن قضیه به محاکم عدلی بیشتر ازین مسأله را دامن نزنند.

په افغانستان کې د عيسويت د خپراوي مخه څنگه نيول کيدی شي؟

محمد خليل

د تېرې يکشنبې په ورځ د غبرگولي په ۱۶ مه داخله وزير محمد حنيف اتمر په ولسي جرگه کې وويل چې په افغانستان کې ټول ټال ۷ کليساگانې فعاليت کوي او له هغوی نه دوه کليساگانې چې د عيسويت ددين تبليغ يې کاؤ بندی کړي دي. نوموړی وويل: يوه موسسه د کابل په څلورم کارته کې، او بله موسسه د بدخشان ولايت د شکاشم په ولسوالي کې د عيسويت د خپرولو فعاليت کاؤ چې له پلټنې او تثبيت نه وروسته يې بندی کړی دي.

هغه زياته کړه چې په بدخشان کې يوه کورنۍ چې عيسويت ته اوړيدلي وو نيولي او تر تحقيق لاندې دي. حنيف اتمر وويل چې د هېواد په بېلا بېلو سيمو کې ۷ کليساگانې فعاليت کوي چې افغانان عيسويت ته واړوي، هغوی پسې هم لټه روانه ده چې ځايونه يې پيدا او فعاليتونه يې بند کړي.

دغه خبر د افغانانو قهر راپارولی او خوب يې تښتولی دی، يقيناً چې دا يوه داسې ناروا هڅه ده چې افغانان يې په هيڅ حالت کې نشي زغملی او نه هم چاته ددې اجازه ورکوي چې د مسلمانانو عقيده خرابه او عيسويت ته يې واړوي. چارواکو ته پکار دي چې نه يواځې دا چې دهغوی د فعاليت دفترونه او مرکزونه بند کړي بلکې له سخت نه سخته سزا هم ورکړي چې بيا لپاره بل څوک دداسې ناروا کار د ترسره کولو جرئت ونکړي.

دا چې زموږ ځينې هېوادوال عيسويت ته اوړي او د اسلام له سپېڅلي دين نه لاسونه وينځي، ټولو افغانانو په ځانگړې توگه علمای کرامو او حکومتي چارواکو ته د فکر او غور کولو بلنه ورکوي چې آخر هغه کوم لاملونه او عوامل دي چې د افغانستان ځيني وگړي د عيسويت دين منلو ته اړ کيږي؟

زما په اند ددې څو غټ علتونه دي، يوه دا چې دوی تر اوسه د اسلام د سپېڅلي دين له اصل روح نه خبر نه دي، نه د قرآن کريم له تعليماتو نه برخمن دي او نه هم د محمد صلی الله عليه وسلم له سنتو او احاديثونه، هسې تش په نامه مسلمانان دي، آن چې په دې هم نه پوهيږي چې د (لا اله الا الله محمد رسول الله) د کلمې معنی، مطلب او غوښتنه يې څه ده؟ ! ښکاره خبره ده چې څوک د خپل دين په اصل روح پوه نه وي او دهغې کلمې په مفهوم هم نه پوهيږي چې دهغې په ويلو سره د اسلام په چوکاټ کې داخل شوې هغه کله د خپل دين په قدر او قيمت پوهيدلی شي، هغه څنگه کولی شي چې نور اديان له خپل دين سره پرتله او دفاع يې وکړي؟ له بده مرغه د افغانستان زياتره مسلمانان د اسلام ددين له ښيگڼې او له ډېرو ضروري مسائلو نه هم خبر نه دي چې ددوی دغه ناخبرتيا ددوی د ښويدو او تيروتلو باعث گرځي. دويم غټ علت يې دادی چې په هيواد کې د اسلام پر سپيڅلی قانون عمل نه کيږي، په اساسي قانون کې تش دا ليکل شوي چې د افغانستان قانون اسلام دی مگر د عمل په ډگر کې چېرته دوربين کې هم نه ليدل کيږي. افغانان د اسلام له هغو ښيگڼو، گټو، خوا خوږيو او خوږونه محروم دي چې د اسلام سپېڅلي دين يوې انساني ټولنې ته ورکړي دي. نه يې فيصلې او پريکړې په هغه عدالت او انصاف سره کيږي چې د اسلام په پاک دين کې موجود دي او نه هم انسان ته د کرامت او عزت هغه مقام ورکول کيږي چې الله تعالی پخپل مبارک او له رحم نه ډک دين کې ورته ورکړی دی. لنډه دا چې زموږ د ژوند په ټولو ځانگو کې، که هغه دولتي دي يا ولسي، ټولنيز دي او که انفرادي، سياسي دي او که له سياست نه دباندې، حقوقي دي او که جنايي، اخلاقي دي او که انساني، اقتصادي دي او که تجارتي ... د افغانستان په ټولنه کې نه رعايت کيږي. ددې پر ځای چې په حکومتي دوائرو او له حکومت نه دباندې په ټولنه کې پخپلو ستر گو د اسلام ددين عملي ښه وگوري برعکس هغه څه گوري چې اسلام ورته مطلق حرام او ظلم ويلی دي.

دريم لوی علت په هېواد کې له زغم نه وتلی د لوږې او غربت موجوديت دی. د حضرت علی کرم الله وجهه مبارک ارشاد دی چې غربت او فقر انسان کفر ته نژدې کوي. غربت له زغم نه وتلې هغه بده بلا ده چې انسان ډېرو گناهونو ته اړباسي، خصوصاً په دې زمانه کې چې د ژوند اړتياوې خورا ډېر شوي دي. لږ تر لږه هر انسان ددې حق لري چې د سر پټولو لپاره کور، خوراک څښاک لپاره يوه نوړی ډوډی، د اغوستلو لپاره مناسب لباس، د خپلو ماشومانو د تعليم لپاره څه نا څه پيسې او د خپل ساه د ساتلو لپاره د حلالې مزدورۍ مدرک ولري. خو ډېر افسوس چې زموږ گڼ هېوادوال د ژوند له بنسټيزو ضرورياتو نه محروم دي او د غربت په ژرنده کې دل کيږي، نه په ټولنه کې ورته څوک د عزت او انسان په ستر گو گوري او نه هم په حکومتي ادارو کې څوک دهغوی آه و فرياد اوري، داسې وگړي عموماً په ټولنه کې د کمترۍ په احساس کې شپې سبا کوي، نه څوک په خيرات کې يادوي او نه هم د سلا مشورو په غونډو کې، نه ورسره څوک خپلولي کوي او نه هم دوستي. د افغانستان په ټولنه کې غريب او مفلس هغه قشر دی چې ټول عمر رټل او ځورول شوي او په سپک نظر ورته کتل شوي دي. ځرگنده خبره ده چې کله د يو چا حالت په اسلامي هيواد او مسلمانه ټولنه کې داسې کچې ته رسيدلې وي هغه به څنگه د بل چا د غوړو او نرمو خبرو په لومه کې نه نښلي؟ آيا هغوی به د حضرت علی کرم الله وجهه ددې وينا چې فقر انسان کفر ته نژدی کوي مصداق ونه گرځي؟ د علم باب علی رضی الله عنه د کومې خبرې خبرداری چې موږ ته څوارلس سوه کاله وړاندی راکړی دی هغه د دولتي چارواکو او مسلمانانو پام ديته اړوي چې هغوی بايد په خپله ټولنه کې د غربت د مخنيوی او د فقر د ژوند د ښه کولو لپاره جدي گامونه اوچت کړي تر څو دهغوی دغه فقر د کفر باعث ونه گرځي، مگر ډېر افسوس چې موږ تر اوسه د فقر د ختمولو او د غرباو د ژوند د ښه کولو لپاره مو نه يواځې دا چې هيڅ گام نه دی اوچت کړی بلکی د ورځو په تيريدو غريب نور هم غريب او مالدار نور هم مالدار کيږي.

که دولتي چارواکی او د افغانستان مسلمان ولس د زړه له کومې غواړي چې د افغانستان وگړي له خپل دين نه بېگانه نشي نو ددې يواځينې لاره داده چې په لومړی گام کې دې دولت په عاجله توگه د افغانستان په گوټ گوټ د هېواد جيدو علماو له لارې د دين د پوهاوي لپاره دعوتي پروگرامونه پيل کړي، هر چېرته او هر ځای کې علمي او دعوتي مرکزونه په کار واچوي تر څو لدې لارې وکولای شي چې د افغانانو په زړونو کې د اسلام د سپېڅلي دين حقانيت ځای پر ځای او په مغزو کې سالمه او راسخه عقيده کېنوي. همدغه راز ټول تصويري، چاپي او صوتي رسنيو ته وظيفه وسپاري چې د اسلام د خپراوي او د اسلامي عقيدې د تشريح لپاره لازم او مناسب پروگرامونه جوړ کړي او لدې لارې کوښښ وکړي چې خپل مسلمان اولس له عقيدوي انحراف نه وساتي.

په دويم گام کې دی له هيواد نه د فقر او غربت د مخنيوی او دغريبانو د ژوند د ښه کولو په موخه بيړنی پروگرام په کار واچوی تر څو د کفري اديانو پيروان هغوی له خپل اسلام نه منحرف نه کړي. پخپل هيواد کې دې د څه څنډ او خنډه پرته د اسلام سپېڅلي دين عادلانه نظام پلې او د خپل ولس ټول مسائل د اسلام په رڼا کې حل او فصل کړي.

د علی رضی الله عنه غوندې اوچت شخصيت چې د الله رسول محمد صلی الله عليه وسلم نژدې ملگرې او د مسلمانانو څلورم خليفه و، پخپله زمانه کې ددې ويره ښکاره کړی وه چې فقر انسان کفر ته نژدې کوي او محمد صلی الله عليه وسلم به هم هر وخت پخپلو دعاگانو کې له کفر او فقر نه پناه غوښته، په داسې حال کې چې دهغوی ايمان ډېر غښتلی او عقيده يې کلکه وه، په اوسنۍ زمانه کې خو موږ لپاره ډېره ضروري ده چې د فقر نه د وتلو لپاره خپلې ټولې هلې ځلې پکار واچوو او لدينه د نجات لپاره شپه ورځ د الله په حضور کې د دعا لاسونه اوچت کړو. که خدای مکړه موږ خپل مسؤوليت په گډه ترسره نکړو او د فقر دله منځه وړلو لپاره عملي گامونه اوچت نکړو نو داسې هيڅ ممانعت نشته چې زموږ ولس له عقيدوي او اخلاقي انحراف څخه وساتي.

راځئ د تشو واويلو او شکايتونو پر ځای د عملي اقدام له لارې خپل مسلمان ملت له عقيدوي او اخلاقي انحراف څخه وساتو څکه چې يواځيني عملي او فطري لاره يې همدا ده، نه تش احتجاجونه او واويلا کول.

ولي مو اسلام ومانه؟

ژباړه : عبدالله "کامه وال"

پخوانی مذهب: عيسائيت

اسلامي نوم: داؤد

ما ولی اسلام ومانه؟!

داؤد د خپل مسلمانيدو کيسه څه داسې کوي:

زه د ويسټ انډيز اوسيدونکی يم، زما پلرنی مذهب عيسائيت و، ما له وړوکتوب نه له خپل مذهب سره ډېره مينه درلوده. د انگلستان نه به چې کله عيسوي مبلغين زموږ هيواد ته راتلل نو زه به ډېر خوشاليدم، هغوی به له موږ سره ډېر ښه سلوک او اخلاق کاو، ما به زړه کې ويل که چېرته زه هم انگلستان ته لاړ شم نو هلته به ډېر زيات خوشاله شم. ښه کارو بار به هم ترلاسه کړم او په آزاد ماحول کې به عبادت هم په پوره اطمينان ترسره وکړم.

کله چې زه ځوان شوم او د يو کار لپاره لندن ته ولاړم نو ډېر خوشاله شوم، هلته په مبلډن کې مې دساوټ فيلډز نومې سيمه کې په يو داسې فلاټ کې کوټه ونيوه چې هلته له وړاندی نه زما څو ملگري اوسيدل، ځرنگه چې زما له مذهب او عبادت سره ډېره مينه وه نو هلته نژدی يو گرجاته لاړم، هلته په گرجا کې موجود انگريزانو زما هر کلی وکړ او پخير راغلاست يې راته وويل، بلې هفتې ته چې گرجا ته لاړم نو هلته موجود سپين پوټکو انگريزانو زما پر راتلو خپلې وچولې تر يو کړی، کله چې له عبادت نه وروسته خپل کور ته راتلم نو د گرجا پادري ماته وويل چې د تور پوټکو گرجا په بل ځای کې دی، لدې وروسته د عبادت لپاره هلته ورځه، ځرنگه چې هغه لږ غوندی له مانه لېرې وه نو بلې هفتې ته بيا همدلته راغلم، دا ځلې د سپين پوټکو انگريزانو قهر او خپگان له ورايه ښکاره کيده، پادري ماته د خلکو په وړاندې په سخته لهجه کې وويل چې ما تاته تيره اونی دا خبره کړی وه چې د تور پوټکو گرجا هلته وړاندی ده لدينه وروسته هلته ورځه ته نه پوهيږی چې دا د سپين پوټکو گرجا ده؟ د پادری دغه خبره پر ما ډېره بده ولگيده او (thank you sir) ټينک يو سر په ويلو سره له گرجا نه دباندی ووتلم. ځرنگه چې زما له مذهب سره ډېره مينه وه او د پادری په دې بد سلوک ماته ډېر خپگان رسيدلې و نو په کور کې مې ډېر زيات وژړل له ځان سره مې وويل چې په نورو هيوادو کې د اخلاق او محبت دعوت ورکوونکی دغه دوه مخي عيسوي مبلغين پخپل هيواد کې څومره د نسل او رنگ په تعصب کې اخته دي.

زه ډېر خفه او پريشانه وم د خپل خپگان د کمولو لپاره به په بازار کې گرځيدلم، يوه ورځ يو سړي د السلام عليکم په ويلو له مانه پوښتنه وکړه چې آيا ته د ويسټ انډيز اوسيدونکی يی؟ ته به خامخا مسلمان يی، د قرآن کريم تلاوت خامخا کوه، ما ورته وويل: زه مسلمان نه يم خو هغه راته بيا وويل چې قرآن کريم خپل وظيفه وگرځوه، دهغه دا خبره زما په ذهن کې تاويده راتاويده او يوه ورځ ديته چمتو شوم چې د مسلمانانو مسجد ته لاړ شم او قرآن کريم ترلاسه کړم، ما خپل ملگری ته وويل چې زه مسجد ته ځم او هلته د قرآنکريم يوه نسخه ترلاسه کوم، هغوی راته وويل خبردار چې مسجد ته لاړ نشي مسلمانان ډېر خطرناک او ظالم خلک دي هغوی به دې ووژني، ما هغوی ته وويل: زه ضرور مسجد ته تلل غواړم که له مسلمانانو مې څه خطره وليدله نو له تاسو نه به مرسته وغواړم. هغوی ماته د يو مسجد آدرس راکړه چې کرکل وډ مسجد په نوم ياديده. هلته يو اسلامي مرکز هم و، زه هلته ولاړم او ملگرو ته مې وويل چې که چېرته تر شپږ بجو پورې له تاسو سره زما تيلفوني خبری اترې ونشوې نو پوه شئ چې زه په خطره کې يم او تاسې به زما مرستې ته ضرور ځانونه رسوئ، پاو باندې دوه بجی په ويره ويره د مسجد دروازې ته نژدی شوم گورم چې څه خلک په دسترخوان ناست دي او ډوډۍ خوري، هغوی چې زه وليدلم نو راته په انگريزی کې وويل چې دننه تشريف راوړئ، ما خپلې څپلې وويستلې او دننه ولاړم، له هغوی نه يو تن ماته غاړه راکړه، په زړه کې مې وويل کيدی شي دې به ما له مرۍ نه ونيسي او د خپلو نورو ملگرو په مرسته به مې ووژني، ما دهغه لاسونه لېرې کړل، هغه له مانه لېرې شو او راته يې وويل راځه له موږ سره ډوډۍ وخوره، هلته مې دهغوی په وينا خپل لاسونه او مخ ووينځل او ورسره په دسترخوان کېښناستم، په ويره ويره کې مې څو نوړۍ ډودی وخوړه او په زړه کې ويريدلم چې هسې نه راته په ډوډۍ کې زهر رانکړي، دا هسې زما وهم و، دهغوی مينه او خلوص د ليدلو وړ و، هغوی له مانه پوښتنه وکړه چې ته څوک يې او څه لپاره دلته راغلی يی؟ ما هغوی ته خپله ټوله کيسه واوروله او د قرآن کريم او اسلام په باره کې مې ترينه پوښتنې وکړی، هغوی په ډېره مينه ماته معلومات راکړل او د اسلام ښيگڼې يو يو راته بيانی کړی قرآنکريم يې هم راته راکړ، دهغوی دغه ښه اخلاق او مينې په ليدو سره مې په سملاسی ډول غوښتنه وکړه چې ماته د مسلمانيدو لاری وښايئ. هغوی د مسجد امام صاحب په لاس زه مسلمان کړم او داؤد نوم يې راباندې کېښود. ما شپږ بجې د خپلې کوټې ملگرو ته په تيلفون داډ ورکړ چې زه په خير او خيريت کې يم، څو ورځې مې له خپل کار نه رخصتي واخست او تبليغی حضراتو سره ددين د تبليغ لپاره ولاړم، د قرآن کريم تلاوت مې شروع کړ او څه موده وروسته مې د قرآن کريم زياتی حصی حفظ کړي. څو مياشتې وروسته د خپل هيواد او د خپلې ژبې له مسلمانې ښځې سره مې واده وکړه، اوس د خپلې ښځې او فاميل د حقوقو د ادا کولو ترڅنگ د اسلام د تبليغ لپاره هم خپل وخت وباسم. په دين کې چې په کومو خبرو پوه نه شم هغه ددين له علماؤ نه زده کوم، د اسلام دين انسانيت ته د امن او سلامتيا لاری ښايي، په دې کې له انسانيت سره د مينې او همدردې درس ورکول شوی، ټولو انسانانو ته په يوه ستر گه کتل شوي، په دې کې د رنگ ژبې او نژاد پالنې هيڅ تصور نشته، هر انسان محترم او د قدر وړ دی، که څوک غواړي چې د امن او مينې په فضاء کې د اطمينان ژوند ترسره کړی نو د اسلام دين دی ومني.

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه

د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال

مرستیا ل مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

اړیکو شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲

د کتنپلاوي تر څارنې لاندې

آدرس: دحزب اسلامي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

زمزمهٔ بر قیام خونین هشتم و چهاردهم جوزا ...

و با صفوف مرصوص، دستان خالی و توکل به الله صف آرایی نموده که از پیشانی این رادمردان توحید و سپاهیان نور بارقه های امید چون نور خورشید میدرخشید، وفضای تاریک و سیاه گودال پلچرخی را هرچه بیشتر درخشان نموده بود ....

سپیدی روز به سوی سیاهی شب می شتافت لشکریان اهریمن بسوی صفوف سپاهیان نور ملبس با مدهش ترین و مدرن ترین ابزار جنگی با هزاران سپاهی هر چه پیشتر قدم میگذاشتند.

هر دو لشکر در میدان نبرد بخاطر آخرین سرنوشت و زورآزمایی آماده شدند، مجاهدین در آغاز شب بالای سپاهیان مارکس تبار یورش بردند. با دستان خالی و قبول شهادت ها، عزم راسخ به خدا توانستند شانه های خصم و عدوه را از مسلسل خالی و بر قلب دشمن رخنه کنند....

نبرد گرمتر میشد یکی با دیگری با هم افتادند سپاهیان بیدفاع نور توانستند ده ها تن از پرچمداران دهری را در میدان حرب از پاه درآورده و روانه جهنم نمایند.

دسته جات تازه نفس دشمن از زمین و هوا بالای مجاهدان وارسته و بنیان گذاران مکتب حق، عدالت و آزادی حمله بردند. شدت جنگ بیشتر و شدیدتر میشد. سرانجام آزادگان نهضت اسلامی چو میدان احد همه جام شهادت نوشیدند. و با پرواز عاشقانه بسوی عرش برین شتافتند .... که این آخرین کار زار نبود. بل، آغاز فروپاشی نظام کمونیزم و مکتب الحادگرایی و پیام و درسی برای نسل های آینده ما و بشریت خواهد بود این قیام نهضیان در محبس پلچرخی در اندیشه تاریخ این سرزمین جاویدانه خواهد بود خداوند روح شانرا شاد و ما را توفیق عنایت فرمائید تا این راه بزرگ و این قافله نور را به سرمنزل مقصود برسانیم. آنها به مطلوب رسیدند و ما در نیمه راهیم.

(ت، سخی)

امریکا: افغانستان ته د لوژیستیکي اکمالاتو په لیږلو کې دې اذربایجان مرسته وکړي

د امریکا دفاع وزیر رابرټ ګیټس د اذربایجان له ولسمشر سره په کتنه کې افغانستان ته د لوژستیکي اکمالاتو او امریکایي بهرتېرو د لیږدولو په چاره کې ددې هېواد د مرستې غوښتنه وکړه. اذربایجان په هغه سیمه کې موقعیت لري چې افغانستان ته د امریکا د لوژستیکي اکمالاتو د رسولو لپاره د پاکستان د لارې د بدیل په توګه پېژندل کېږي.

په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو پرضد د امریکا په مشرۍ د نړېوالې ټولنې د پوځي عملیاتو له پیل کېدو وروسته د نړېوال ایتلاف زرګونه پروازونه د اذربایجان له هوایي قلمروه افغانستان ته تللي او په دې ترڅ کې یوازې تېرکال سل زره امریکایي او د ناټو سرتېري له دې لارې افغانستان ته استول شوي دي.

اذربایجان افغانستان ته د لوژستیکي اکمالاتو د استولو په هغه حلقه کې شامل هېواد هم دی، چې د پاکستان د اکمالاتي لارې د بدیل په توګه کار ترې اخیستل کېږي او له همدې هېواده د ټولو جنګي وسایلو او امکاناتو څلورمه برخه افغانستان ته ځي.

د اذربایجان ولسمشر الهام علي یوف شکایت کوي، چې واشنګټن د ده هېواد ته لازمه پاملرنه نه کوي او امریکایي مقاماتو له ارمنستان سره د دې هېواد د ارضي لانجې د حل په برخه کې کم اقدامات کړي دي.

علي یوف همدا راز د بشري حقونو، د مطبوعاتو د ازادۍ او انتخاباتو په برخو کې تل د سپینې ماڼۍ له انتقادونو سره مخامخ شوی دی.

د امریکا دفاع وزیر له علي یوف سره په سنګاپور کې په یوه دفاعي غونډه کې له ګډون وروسته په مرکز باکو کې کتنه وکړه.

ګیټس ددې کتنې په اړه وویل، په باکو کې د ده د توقف هدف ولسمشر الهام علي یوف ته داډ ورکول دي، چې امریکا له ده سره کومه ستونزه نه لري.

ګیټس وویل، ښاغلي علي یوف ته دا اطمینان چې د ده هېواد ډېر مهم رول لري اهمیت لري.

ګیټس د اذربایجان ولسمشر ته د ولسمشربارک اوباما له خوا یو لیک هم وسپاره. ده وویل چې په راتلونکي کې د دواړو هېوادونو د لوړې مرتبې مشرانو کتنې هم په پام کې دي.

افغانستان ته د لوژیستیکي اکمالاتو د رسولو په برخه کې ستونزې له قرغیزستان سره چې د اکمالاتو تر ټولو لویه اډه په کې ده رامنځ ته شوې، وروسته د پخوانی شوروي له نورو جمهوریتونو سره معاملې هم په کې راغلې او له بلې خوا له روسیې سره همکاري هم کله ناکله ستونزمنه وه.

د امریکا دفاع وزیر یادونه وکړه، چې د منځنی اسیا ترانزیتي لاره د افغانستان د جګړې د اکمالاتو تر ټولو ارزانه او اغېزمنه لاره ده.

ده د اذربایجان ولسمشر ته ډاډ ورکړ چې امریکا په ضروري حالاتو کې غیر ډیموکراتیکو اقداماتو ته نه ګوري، ویې ویل، که د دې هېوادو له مشرانو څخه پوښتنه وکړي نو درته وبه وایي چې دوی هېڅ کوم غلط اقدامات نه دي کړي.

له ستراتیژیک پلوه اذربایجان چې د روسیې او ایران ترمینځ موقعیت لري د لویدیځ لپاره خانګړی اهمیت لري.

دا هېواد د روسیې د انرژۍ پر سرچینو د لویدیځ د اتکا خای د کولای شي او د امریکا په وړاندې په سیمه کې د روسیې په سیالۍ کې هم خاص اهمیت لري.

ګیټس: کرزی دې دوو لوړو مقامونو ته وړکسان وګماري

د امریکا د دفاع وزیر رابرټ ګیټس پرون د افغانستان له ولسمشر حامد کرزي څخه وغوښتل، چې د کورنیو چارو وزیر او د ملي امنیت د ریس پرځای وړ او تکړه کسان وګوماري.

ده په عین حال کې وویل، چې د دغو دوو لوړ رتبه امنیتي چارواکو لیرې کېدا د دې نښه نه ده چې ګواکې د کرزي حکومت له وسله والو طالبانو سره د سولې او پخلاینې په هڅو کې له ستونزو سره مخامخ دی.

ګیټس د محمدحنیف اتمراو امرالله صالح د یکشنبې د ورځې د ناځایي استعفاوو په اړه یوې پوښتنې ته په سرعت او په احتیاط ځواب ووایه.

دا دواړه افغان چارواکي د امریکایي چارواکو له لورې د ښلګي او تکړه افغان چارواکو په توګه په نوم یادېدل او ویل یې چې دوی له فساد او خپلوي پالنې پاک دي.

ګیټس د افغانستان د کورنیو چارو وزیر او د استخباراتو د رییس استعفا د افغانانو بشپړه کورنی مسله وبلله.

د امریکا دفاع وزیر دا خبرې په لندن کې خبریالانو ته وکړې.

ګیټس د بریتانیا له صدراعظم سره ولیدل، هغه لندن ته په دې خاطر سفر کړی، چې له بریتانوي چارواکو سره د افغانستان په جنوب کې د پوځي هلوځلو په باب خبرې وکړي.

د امریکا متحده ایالات هڅه کوي، چې په افغانستان کې د جګړې لپاره د نړېوالو متحدینو ملاتړ راجلب کړي.

ګیټس وویل، دی د ناټو له غړیو هېوادونو غواړي چې دی هېواد ته د امنیتي خواکونو د روزلو په هدف نورخواکونه واستوي.

ګیټس په افغانستان کې د بریتانیا د پوځي حضور په اړه وویل، چې دی به له بریتانوي چارواکو ونه غواړي چې دې هېواد ته نورسرتېري واستوي ځکه د ده په وینا بریتانیا په افغانستان کې کافي ونډه اخیستې ده.

ګیټس د امریکا د ولسمشر بارک اوباما د کابینې لوړ پوړی مقام دی، چې د بریتانیا له نوي صدراعظم د یوید کامرون سره ګوري او په افغانستان کې د پوځي هلوځلو په باب ورسره خبرې کوي.

چه باعث شد که دو مقام ارشد ...

در حالی که این دو مقام می گویند، خودشان از پست های شان کنار رفته اند از لحن اعلامیهء ریاست جمهوری افغانستان که در آن گفته شده "توضیحات این دو مقام در ارتباط به تامین امنیت جرگه مشورتی صلح نتوانسته است که قناعت رییس جمهور حامد کرزی را حاصل کند" چنین بر می آید که آنها به استعفا مجبور شده اند.

اما جنرال متقاعد و کارشناس مسایل نظامی عبدالواحد طاقت می گوید، وزارت داخله و ریاست امنیت ملی در حوادث جرگه مشورتی صلح اقدامات لازم را سردست گرفتند.

آقای طاقت علاوه می کند باوجود آنکه رییس امنیت ملی از ابتکار برخوردار بود، امکانات و صلاحیت های کاری کافی به او داده نشده بود.

در این حال برخی دیگری از کارشناسان فکر می کنند، احتمالاً این اقدام رییس جمهور کرزی در برابر دو مقام که متحد نزدیک ایالات متحده امریکا دانسته می شوند، به دنبال جرگه مشورتی صلح ابعاد دیگری نیز داشته باشد.

در این حال روزنامه واشنگتن پوست می نویسد، احتمالاً بر طرفی اتمر و صالح می تواند یک بار دیگر روابط متزلزل میان واشنگتن و کرزی را برهم زند.

جیف موریل سخنگوی وزارت دفاع امریکا به دنبال گزارش استعفای این دو مقام گفت، هر دو آنها خدمات قابل قدری را انجام داده اند. موریل گفت، اتمر از جمله وزرای بود که برای ایجاد اصلاحات از سوی مقامات امریکایی به وی چشم احترام نگریسته می شد.

واشنگتن پوست می نویسد، ایالات متحده در اصول با روند گفتگو های حکومت افغانستان با طالبان موافق است اما در عمل در این زمینه محتاط برخورد می کند. یک مقام ارشد نظامی امریکا که با اتمر همکار نزدیک بوده به این روزنامه گفته است که طی ماه های اخیر در رابطه به تلاش های مصالحه روابط میان کرزی و اتمر متشنج شده بود.

این مقام همچنین گفته است، اتمر با شمولیت طالبان در صفوف اردو و پولیس مخالفت می کرد و این چیزی بود که به گفته وی امریکایی نیز با آن مخالف بودند.

عزیز رویش یکی از کارشناسان مسایل سیاسی در کابل با تایید این مخالفت ها می گوید، که اختلافات نظرها میان این دو مقام و رییس جمهور کرزی با فرمان رییس جمهور برای رسیده گی به دوسیه های زندانیان که بنام طالب بازداشت شده اند شدت گرفت.

اما نصر الله ستانکزی یکی دیگری از استادان علوم سیاسی در پوهنتون کابل و صاحب نظر در مسایل سیاسی با موجودیت برخی از احتمالات دیگر روی اهمیت جرگه مشورتی تاکید گذاشته می گوید، که علت اساسی استعفای وزیر داخله و رییس امنیت ملی ناشی از همین حادثه می باشد.

وی می گوید، مقامات باید فرهنگ استعفا دادن و کنار رفتن از پست های را بیاموزند که ظرفیت کار در آن را ندارند:

«استعفا کردن اخلاق، جرات و مسولیت پذیری می خواهد. فکر می کنم این یک امر معمول است در همچون حالات و کدام حالت بسیار استثنایی نیست. بهتر این است که این به یک فرهنگ در افغانستان مبدل شود.»

در این حال واشنگتن می نویسد، سال گذشته پیش از انتخابات ریاست جمهوری زمزمه های از نامزدی محمد حنیف اتمر در این انتخابات مطرح بود و باور بر این است که و به سیاست علاقه مندی دارد.

بر اساس گزارش روزنامه واشنگتن پوست، امر الله صالح از مدت طولانی به این سو با سی آی ای روابط نزدیک داشت و این ارتباطات به جنگ های داخلی دهه نود بر می گردد.

تمام قضیه های شورشیان مظنون ...

از فهرست سیاه سازمان ملل متحد پاک شود و هم چنان زندانیان آن ها از زندان های داخلی و خارجی در افغانستان رها گردند. اقدامی که از سوی جرگه حسن نیت خوانده شد.

حالا هم حکومت افغانستان و هم قوای ناتو به تطبیق این پیشنهاد ها آماده گی نشان داده اند.

اما عملی شدن این پیشنهاد ها از سوی حکومت بحران اعتماد با مخالفان مسلح اش را در چی حدی رفع خواهد کرد؟

وکیل احمد متوکل وزیر خارجهء دوران طالبان در گفتگوی اختصاصی به رادیو آزادی با لحن خوشبینانهء در این مورد صحبت کرد.

اما مخالفان مسلح حکومت اصل برگزاری جرگه مشورتی صلح را نمایشی و ابتکار خارجی ها خوانده اند.

زندانی بودن افغان ها در زندان های قوای امریکایی و دیگر خارجی ها در افغانستان، مساله مورد اختلاف میان حکومت کابل و غرب بوده است.

رییس جمهور کرزی در گذشته هم خواهان پایان یافتن این چنین توقیف ها در خاک افغانستان شده است.

ایالات متحده امریکا اخیراً، با نشان دادن چراغ سبزی به این درخواست های رییس جمهور ظاهراً موقفش را در این مورد روشن ساخت.

چهار زندانی افغان در پایگاه بگرام قلب ماموریت قوای ایتلاف و ناتو در افغانستان، برای اولین بار در مقابل یک قاضی افغان حضور یافتند و وکیل مدافع در اختیار آن ها قرار داده شد چیزی که در سال های گذشته اصلاً از آن محروم بودند.

هولبروک: امریکا په افغان ...

ګام و او امریکا یې ملاتړ کوي.

ښاغلي هولبروک دې پوښتنې ته چې که د سولې په بهیر کې د طالبانو د مشر ملاعمر د ګډون خبره وي نو ایا امریکا به یې بیا هم ملاتړ وکړي، په ځواب کې وویل، دا جګړه د دوهمې نړېوالې جګړې په څېر نه ده چې د یوې جنګي بېړۍ پرسر پای ته ورسېږي او نه لکه د بوسنیا د جګړې په څېر چې د سولې تړون یې په دېټون کې لاسلیک شو.

هولبروک زیاته کړه، چې د افغانستان د جګړې پای به له دې جګړو څخه توپیر ولري او یو سیاسي بهیر ورته ضروري دی.

ده په ډاګه کړه، چې له القاعده سره سوله اوخبرې ناممکن کار دی خو د طالبانو له مشرانو سره خبرې ممکنې دي.

ریچارد هولبروک وویل، که یو طالب له القاعده سره اړیکې وشلوي، خپله وسله کېږدي او په حکومت کې د ګډون لپاره له سیاسي بهیر سره یوځای شي، په دې کې هېڅ عیب نشته.

دوی ته ور پرانیستې دی او د سولې ملي مشورتي جرګه د سولې لپاره د دې هڅو یوه مهمه برخه وه، خو ده په ځانګړي ډول له طالب مشرانو سره د روغې په اړه څه ونه ویل.

د افغانستان او پاکستان لپاره د سپینې ماڼۍ خانګړی استازی ریچارډ هولبروک چې د افغانستان د کړکېچ د حل په مقصد، د ملګي هڅو پر لارو چارو د بحث په یوه نړېوال کنفرانس کې د ګډون لپاره په اسپانیا کې دی وویل، دا غونډه چې د افغانستان او پاکستان لپاره د هېوادونو د ځانګړو استازو په ګډون نن دوشنبې په مرکز مادرید کې پیلېږي، د سولې د ملي مشورتي جرګې بحثونو ته دوام ورکوي.

د ده په وینا، دا غونډه چې د څه باندې دېرشو هېوادونو او نړېوالو موسسو استازي ګډون په کې کوي، په خپل ډول کې تر ټولو لویه غونډه ده.

هولبروک د افغانستان په اړه په روانو غونډو کې د نړۍ د هېوادونو په تېره د اسلامي نړۍ د همکارۍ د پراختیا او ګډون ستاینه وکړه، ویې ویل چې په هغه ګډوډ حالت کې چې ولسمشر بارک اوباما ته په میراث پاتې دی، دا د پخوا په پرتله یو بشپړ توپیر او بدلون ښیي.

په پاکستان کې د افغانانو د ...

له یوه کتابتونه کتاب راونیسم ، چې پولیسو ونیولم ، خو ما ښه کار داکړی وچې دوه سوه روپۍ ښکاره اینبې وې او نورې مې پټې کړې وې، لومړی راته پولیسو وویل چې ستا له کارډ نه ښکاري چې ماجر یې صدر چونۍ ده ، ماجر نشي کولی دلته وګرځي. خوځرنګه چې نورې پیسې یې راسره پیدانه کړې نو ببایي رانه موبایل واخیست. ده ویل یوبل افغان یې په دې ونیوچې ولې په موبایل کې خبرې کوي.

ماچې کوم وروستی کس لیدلی چې عمر یې په ګرانه شپاړسو کلونو ته رسېږي ،له هغه سره دخیبر پښتونخوا دحیات اباد تانې پولیسو ډېر سرټوب کړی دی. ځکه چې ده یونیم زر روپۍ لرلې او یواځې پنځه سوه ترې هغوی اخیستي دي. خولامل یې دادی چې نورې یې ورسره پیداکړې نه دي ــ او کله چې ده ویلي چې نورې روپۍ نه لري او روپۍ یې باید ورکړل شي نو تر نورو یې ډېر ډبولی دی.

تجارت مواد مخدر افغانستان ...

تولید چرس می باشد و گفته می شود که طالبان از این مدرک سالانه بیشتر از ۳۰۰ ملیون دالر عاید بدست می آورند.

سیر گی ایوانوف گفت، ما از آنچه که جامعه جهانی در رابطه با مبارزه علیه تولید مواد مخدر در افغانستان انجام می دهد، خرسند نیستیم. به خصوص آنانی که مسوولیت ثبات و صلح در این کشور را به عهده دارند، باید در مورد این تهدید، تعهد قوی و نیرومند بسپارند.

معاون صدراعظم روسیه اضافه کرد روسیه حاضر است تا برای جلو گیری از قاچاق و تجارت مواد مخدر، در ایجاد چندین کمربند امنیتی در اطراف افغانستان همکاری کند.

ایالات متحده می گوید، این کشور مبارزه شدید را علیه تولید مواد مخدر در افغانستان انجام می دهد.

جنرال ریچارد میلز قوماندان نیروهای بحری امریکا در افغانستان اخیراً گفته است که قوای امریکا در افغانستان در توافق مطمین با دهاقین که خشخاش کشت می کنند، ضرباتی شدیدی به تجارت مواد مخدر طالبان وارد کرده است.

سر گی ایوانوف معاون صدراعظم روسیه که در کنفرانس امنیتی آسیا پاسفیک صحبت می کرد، همچنان گفت، روسیه به کمک های خود در زمینهء فراهم آوری تسهیلات لوژستیکی و استخباراتی برای امریکا و متحدین آن در افغانستان ادامه می دهد. اما برای اعزام نیروهای نظامی به این کشور تعهد نه می نماید.

معاون صدراعظم روسیه اضافه کرد، هیچ‌گاه حتی یک عسکر روسی به افغانستان داخل نه خواهد شد. وی تقاضای اعزام عساکر روسیه به افغانستان را با تقاضای فرستادن عساکر امریکایی به ویتنام مقایسه کرد و گفت، آیا امریکا حاضر خواهد بود که به ویتنام عسکر اعزام کند ؟ که به گفتهء وی البته این موضوع امکان نه دارد.

سیر گی ایوانوف که سابق پست وزارت دفاع روسیه را کار می کرد، از تبصره در مورد تاکتیک و روش امریکا در افغانستان خود داری کرد. اما خواستار کار بیشتر در مورد بهبود زیربنا های اقتصادی اجتماعی در جهتی تقویت تلاش ها نظامی علیه افراد مسلح مخالف گردید.

سیر گی ایوانوف معاون صدراعظم روسیه گفت، او نه می تواند همین اکنون به طور آشکارا مشوره هایش را بیان کند. وی افزود او این مشوره ها در ملاقات ها با وزرای دفاع، مقامات استخبارات و وزرات امور خارجه امریکا مورد گفتگو قرار گرفته است.